دا دين به تر هغه ځای ورسيږي چېرته چې شپه او ورځ رسېدلي او الله تعالی به په ښارونو او کليو کې هېڅ داسې کور پرې نه ږدي مګر دا چې دا دين به ورننباسي

له تميم الداری رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: «دا دين به تر هغه ځای ورسيږي چېرته چې شپه او ورځ رسېدلي او الله تعالی به په ښارونو او کليو کې هېڅ داسې کور پرې نه ږدي مګر دا چې دا دين به ورننباسي د عزت لرونکي په عزت او د ذليل انسان په ذلت سره؛ داسې عزت چې الله پرې اسلام لوړ او کفر پرې سپک او ذليل کړي" او تميم داري به ويېل: دا مې په خپلې کورنۍ کې ولېدل؛ زما د اهل بيتو له جملې څخه چې چا اسلام قبول کړی و خير، شرافت او عزت يې تر لاسه کړ، او څوک چې له دوی څخه کافران وو، نو له ذلت، سپکاوي او جزيې سره مخ شول».

[صحيح دی] [احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې دا دين به د ځمکې ټولې برخې ويوښي، هر هغه ځای ته چې شپه او ورځ رسېدلي دا دين به ور ورسيږي. او الله تعالی به ښارونو، کليو او بانډو کې هېڅ کور پرې نه ږدي پرته له دې چې دا دين پرې ورننباسي. نو چا چې دا دين قبول کړ او ايمان يې پرې راوړ، نو د اسلام په درناوي سره به عزتمند وي. او چا چې ترې انکار وکړ او کفر يې پرې وکړ نو ذليل او سپک به شي. بيا تميم داري رضي الله عنه وايي چې هغه څه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه وراندوينه کړې وه د خپلې کورنۍ په خلکو کې مې وليدل؛ چا چې له دوی څخه اسلام راوړی و، نو ښېګڼه، شرف او عزت يې تر لاسه کړ، او چا چې له دوی څخه کفر وکړ؛ ذليل او سپک شول او سربېره پر دې به يې مسلمانانو ته جزيه هم ورکوله.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/11220